# مننه چې تاسو بیالاسته راوړنه کې ونډه اخلئ!

Pashto

هر ځل چې تاسو یو پوښښ (قوطی، کارتن، پاکټ یا بوتل وغیره) یا یوه ورځپاڼه د بیالاسته راوړنې لپاره پرېږدئ نو یوه په زړه پورې پېښه رامنځته کېږي. زوړ سرپوښ په یو نټ او بولټ بدلیږي. د جامو مینځلو د پوډرو غونجې شوې قوطۍ څخه د بوټانو یوه ښکلې قوطۍ جوړیږي او لوستل شوې ورځپاڼه په یوه نوې ورځپاڼه بدلیږي. په دې ډول تاسو د زیات مقدار انرژۍ سپمولو په بهیر کې ونډه اخلئ او تاسو ډاډ ترلاسه کوئ چې د طبیعي اومه موادو د ضایع کېدو او د استعمال د دورې څخه د غورځېدو مخه ونیول شي. ستاسو په برکت چاپېریال ډېره ګټه پورته کوي او هر ځل چې تاسو په بیا لاسته راوړنه کې ونډه اخلئ تاسو ته هم یو څه ګټه په لاس درځي.



## د پوښښونو او ورځپاڼو د استعمال دوره

ټول پوښښونه او ورځپاڼې چې راټولیږي د نویو پوښښونو یا توکو جوړولو په موخه د بیالاسته راوړنې مرکزونو ته وړل کیږي. د پلاستیکي پوښښونو څخه د شور مخه نیونکو تختو او د لوخو مینځلو بورسونو څخه نیولې تر د ګلدانیو او پلاستیکي کڅوړو پورې نوي توکي جوړیږي. د ښیښې او کاغذ څخه جوړ پوښښونو څخه ترټولو دمخه نوي پوښښونه جوړیږي. فلزي پوښښونو څخه امکان لري د اورګاډي پټرۍ جوړې شي. د لوستل شویو ورځپاڼو څخه ښایي تشناب کاغذ یا نوې اخبارونه تولید شي.

## د تولیدوونکي مسؤلیت

د دولت د پرېکړې په اساس ټول هغه شرکتونه چې پوښښونه یا بسته بند توکي تولیدوی، واردوي، ډکوي یا پلوري مسئولیت پرغاړه لري چې د راټولولو یو سیستم تاسیس کړي چېرې چې مصرفوونکي د بیا لاسته راوړنې په موخه خپل پوښښونه وغورځوي. دا چاره د تولیدوونکو مسئولیت په نوم یادیږي او دا د ورځپاڼو او استعمال شوي کاغذونو پورې هم اړه لري. څوک چې د اخبار کاغذ واردوي او یا ورځپاڼې او مجلې واردوي یا چاپوي باید د استعمال شوي کاغذ راټولولو او بیالاسته راوړنې مسئولیت هم پر غاړه واخلي. پوښښونه او اخبارونه د هغو لومړنیو توکو د جملې څخه دي چې د تولیدوونکو مسئولیت په چوکاټ کې رانغښتل شوي دي. د پوښښونو او اخباري کاغذ تولیدونکي شرکتونه دا مسؤلیت د پوښښونو او اخبار راټولولو [FTI - Förpacknings- och Tidningsinsamlingen] نومې خدمت چې فعالیت یې په غیرانتفاعي توګه چلول کیږي، له لارې سرته رسوي.

## د بیا لاسته راوړنې مرکزونه

FTI د سویډن په ټولو برخو کې د بیالاسته راوړنې مرکزونو مسئولیت پرغاړه لري. دلته تاسو کولی شئ خپل استعمال شوې ورځپاڼې او د کاغذ، فلز او یا د ښیښې څخه جوړ پوښښونه د بیالاسته راوړنې لپاره پریږدئ. که چېرې تاسو په یوې داسې ودانۍ کې اوسیږئ چې د ورځپاڼو او پوښښونو د راټولولو خپل مرکز لري نو کولی شئ چې هملته یې پریږدئ. FTI د تنظیف زیاتره قراردادیانو سره همکاري لري چې د دغو ځایونو څخه کثافات پورته کوي. په دې توګه تاسو ډاډ ترلاسه کوئ چې ټول توکي په یو ډول د بیا لاسته راوړنې مراحلو څخه تیریږي.

## نور مالومات

تاسو کولی شئ زموږ په ویبپاڼه www.ftiab.se/hitta-atervinningsstation کې تاسو ته ترټولو نږدې د بیالاسته راوړنې مرکز پیدا کړئ او د دې د تشولو او پاکولو د وختونو په اړه مالومات ترلاسه کړئ. همدا راز په دې ویبپاڼه کې د توکو جلا کولو لاربنود، د بیالاسته راوړنې په اړه فیلمونه، ګټورې مشورې او لاربنوونې او زموږ د فعالیتونو په اړه مالومات وړاندې شوي دي.

همدا رنګه تاسو کولی شئ د بریښنالیک info@ftiab.se یا د ۰۲۰۰-۸۸ ۰۳ ۱۱ په شمېره د ټیلیفون په لیکه د خپلو پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړئ.

د نورو ډولونو فضله موادو لکه حجم لرونکي فضه مواد، نباتي سره، بریښنایي فضله مواد او خطرناکه فضله موادو مسئولیت ستاسو د مربوطه ښاروالۍ پرغاړه دی.

FÖRPACKNINGS
& TIDNINGS
INSAMLINGEN

Tack-for-att-du-atervinner _ A4-blad sv _ 150327_Pashto.indd 1 2016-11-10 09:35

# توکي په دا ډول سره جلا کړئ:

ټول پوښښونه باید تش او بیخي وچ وي. د بېلابېلو خامو موادو څخه جوړ پوښښونه باید سره جلا شي. که چېرې د موادو جلا کېدنه شوني نه وي نو پوښښونه د وزن له پلوه ترټولو غالب مواد له مخې ترتیب کړئ.



## پلاستیکي پوښښونه

بېلګې: بوتلونو، قوطۍ، کوچني سطلونه او بوشکې، پلاستیکي کڅوړې، رول شوي پلاستیکي کڅوړي (د بېلګې په توګه په پلورنځي کې د مېوو او سبزیجاتو اچولو لپاره)، بیا ډکولو پوښښونه، ټیوبونه، د چپس کڅوړې او ستیریوفوم سفنج.

**داسې وکړئ** سرپوښ یې لرې کړئ. د پلاستیکي پوښښونو څخه ډکه کڅوړه مو په خځلدانۍ کې په دا ډول تشه کړئ چې هر توکی جلا وغورځېږي. په دې ډول وروسته په بیا لاسته راوړنه کې آسانتیا برابرېږي.

**دا مه غورځوئ** فیما پلاستیکي توکي چې د پوښښونو له شمېره نه دي د بېلګې په توګه فرنیچر، د لوبو سامان او ویدیویي کسیټونه، د حجم لرونکو فضله موادو یا د کور خځلو په ډول غورځول کېږي. د بېرته سپارلو وړ بوتلونه باید په ضمانت کې اخیستل شویو پیسو بېرته لاسته راوړلو په موخه پلورنځي ته یوړل شي.



## کاغذي پوښښونه

بېلګې: د مکروني، شیدو او د جوس قوطۍ، کاغذي کڅوړې، د بورې کڅوړې، د بوټانو قوطۍ، د تشناب کاغذ رول او د کارډبورډ څخه جوړې قوطۍ.

**داسې وکړئ** عدّل/ي العلب واجعلها/يها مسطحة و اطويها. ضع/ي العلب الصغيرة داخل العلب الكبيرة لتوفير المكان للنقل.

**دا مه غورځوئ** ترمي ظروف الرسائل مع النفايات المنزلية (أو مع النفايات التي ستحرق إن وجد مثل ذلك). توضع الصحف و المجلات و الاعلانات في الحاوية الخاصة بذلك.



## فلزي پوښښونه

بېلګې: کنسرو قوطۍ او د سپرې وچې قوطۍ، ټیوبونه، سرپوښونه او د رنګ وچې قوطۍ.

**داسې وکړئ** د کنسرو قوطیو تېرې غاړې ورقات کړئ. د ټیوبونو سرپوښ پرېږدئ.

**دا مه غورځوئ** داسې قوطۍ چې رنګ او سریښ پکې پاتې وي د خطرناکه کثافاتو په توګه غورځول کېږي. کباړ اوسپنه، د تودوخې، هواکشۍ، نظافت سیستم استعمال شوي اجزا، هرکاره او نور توکي چې پوښښ نه شمېرل کېږي، د حجم داره فضله موادو یا د کور کثافاتو په توګه غورځول کېږي. د بېرته سپارلو وړ قوطۍ باید په ضمانت کې اخیستل شویو پیسو لاسته راوړلو په موخه پلورنځي ته یوړل شي.



## د ښیښې څخه جوړ پوښښونه

بېلګه: د رنګه او ساده ښیښې څخه جوړ بوتلونه او مرتبانونه.

**داسې وکړئ** سرپوښونه یې لیرې کړئ او د بیا لاسته راوړنې په موخه یې د خامو موادو له مخې په ترتیب کړئ. رنګه او ساده ښیښه یې پوښښونه په مربوطه خځلدانۍ کې وغورځوئ.

**دا مه غورځوئ** د بېرته سپارلو وړ بوتلونه په ضمانت کې ایسارې شویو پیسو بېرته لاسته راوړلو په موخه پلورنځي ته سپارل کېږي. چیني لوښي، سیرامیک او نور توکي چې پوښښ نه شمېرل کېږي، د حجم داره فضله موادو یا د کور کثافاتو په توګه غورځول کېږي. ګروپونه او راډونه په عامه توګه د کمون د بیالاسته راوړنې مرکزونه کې غورځول کېږي.



## اخبارونه

بېلګه: ورځپاڼې او اوونیزه مجلې، مجلې، کتلاګ، تجارتي اعلانونه، مالوماتي رسالې ، د نقشو کښلو او رسامۍ کاغذ، جیبي کتابونه.

**داسې وکړئ** د چاپ شوي توکو څخه د پلاستیکي کڅوړې او نخښتې تجارتي اعلانونو پاڼې په خځلدانۍ کې غورځولو څخه مخکې لیرې کړئ.

**دا مه غورځوئ** د لیک پاکټونه او مجلد کتابونه د کور خځلو/سوزېدونکو توکو سره غورځول کېږي. کاغذي کڅوړې، کارټنونه او دې ته ورته توکي د کاغذي بسته بندۍ خځلدانۍ کې اچول کېږي.

FTI 2015 mars

Tack-for-att-du-atervinner _ A4-blad sv _ 150327_Pashto.indd 2 2016-11-10 09:35